شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# د خوړې خاورې ارمان

خوړې خاورې ارمان مې همیش ځوان دی راسره دی
د ژوند په اډانه کې مې روان دی راسره دی

یادونه یې تاویرې دوه لیمو کې مرغلرې
دانه، دانه رالویږې لوند ګریوان دی راسره دی

ښوونځي ته جینکو د ورتګ تولې تللي لارې
له هر خوا ترل شوې دا فرمان دی راسره دی

جګړه وه تیاره وه د ځوان نسل زده کړه شنډه
پر ښوونه مو اوس هم د غم باران دی راسره دی

سرک هم پر بندونو ودانیو رغولو
څه ګټه چې مو ځوان انېړ نادان دی راسره دی

خراغ بل په تولنه کې عالمي مور پر مټ شي
پر کور کلي د پوهې خلې وران دی راسره دی

څلویښت کاله تیارې وې پر ټاټوبې راخورې وې
اوس سوله کې د جهل تور طوفان دی راسره دی

غاټولو ګل ګڅونه مو ساړه سپیره پراته دي
د لور د زده کړې غم د درد کاروان دی راسره دی

هېواد کې ولس په یو څوله سره ټول همدغه وایي
طالب مشر له روغ عقله ناتوان دی راسره دی

پیمخي لټوي ان په باګرام کې خوښوی دوي
چې ګورې درېم واده د طالب جان دی راسره دی

راپورته مې په زړه کې شی دا ویره او سیوا شي
کړو چارو کې ګواښ د جنګ روان دی راسره دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ